# زموږ ویب پاڼې ته ورشئ

د واټرټاون سیپک (SEPAC)

sepac.watertown@gmail.com



WATERTOWN, MA

# SEPAC

**S**pecial **E**ducation **P**arent **A**dvisory **C**ouncil

د ځانګړو زده کړو لپاره د میندو او پلرونو
مشورتي شورا

# زموږ په اړه

د واټرټاون د SEPAC چارې د هغو رضاکارو میندو او پلرونو له خوا سمبالیږي چې د میندو او پلرونو له خوا پیژندل شوي او ټاکل شوي دي او پکې د ټولنې ټولې ذینفع خواوې شاملې دي. زموږ غونډې **وړیا او د عام خلکو پر مخ پرانیستې دي.**

د واټرټاون د SEPAC او د موجوده کارکوونکو د لست په اړه د لازیاتو معلوماتو لپاره، مهرباني وکړئ زموږ ویب پاڼې ته ورشئ.



# زموږ ماموریت

*د ټولو زده کوونکو، مراقبت کوونکو، ښوونکو او په پراخه کچه د ټولنې د وګړو په ګډون د صادقانه او اغیزمنې اړیکې، تفاهم او متقابل درناوي هڅول ترڅو معیوبیت لرونکو زده کوونکو او ځانګړو روغتیایي مراقبتونو ته په پام سره، مناسب خدمتونه برابر او وړاندې شي. موږ په مستقیمه توګه د معارف ریاست له چارواکو سره کار کوو ترڅو د سیستم په کچه ننګونو ته د حل لاره پیدا کړو، د کورنیو او د معارف ریاست ترمنځ ارتباطات اسان کړو، او کورنیو لپاره روزنه او سرچینې برابرې کړو.*

# ویب پاڼه

**https://sites.google.com/watertown.k12.ma.us/watertown-sepac/home**

# SEPAC څه شی دی؟

**SEPAC یا د ځانګړو زده کړو لپاره د میندو او پلرونو مشورتي شورا د سیمې د معارف ریاست په کچه د میندو او پلرونو یو کاري ګروپ دی چې د ښوونځي کمیټې او معارف ریاست نورو مشرانو ته د موجوده بریالیتوبونو او په ځانګړو زده کړو او اړوندو خدمتونو کې د ستونزو او ننګونو په اړه خپل نظرونه وړاندې کوي.**

**موږ همداراز د واټرټاون کورنیو او د ټولنې غړو لپاره دا لاندې خدمتونه برابروو:**

- **کورنیو لپاره د ځانګړو زده کړو د اړوند اساسي حقونو په اړه معلومات**
- **په واټرټاون کې زموږ د ښوونځیو د ځانګړو زده کړو تطبیقوونکو سره اړیکې معلومات**
- **د ځانګړو زده کړو پر اندیښنو د خبرو اترو او پوښتنو او ځوابونو ځای**
- **په محلي او د ایالات په کچه د سرچینو برابرول**
- **ټولنه او ملاتړ**

**د مسچوسیټس ایالت د ځانګړو زده کړو قانون او د مسچوسیټس د عمومي قانون 71B2 برخه له عامه ښوونځیو څخه غواړي ترڅو د میندو او پلرونو مشورتي شورا PAC جوړه کړي او دې شورا ته مشورتي او مشارکتي دنده وسپاري.**

*"د هر ښار، ښارګوټي یا د معارف ریاست اړونده سیمه باید د ځانګړو زده کړو په باب د میندو او پلرونو مشورتي شورا جوړه کړي. په دې شورا کې باید د معیوبیت لرونکو ماشومانو میندو او پلرونو او نورو ذینفع خواوو ته غړیتوب ورکړل شي. د میندو او پلرونو د مشورتي شورا دندې باید په لاندې ډول وي خو دې دندو ته باید محدودې نه وي: د ښوونځي کمیټې ته د هغو موضوعاتو په اړه مشوره ورکول چې د معیوبیت لرونکو زده کوونکو زده کړو او خوندیتوب سره تړاو لري؛ په منظمه توګه د ښوونځي له چارواکو سره غونډه کول ترڅو د ښوونځي د کمیټې د ځانګړو زده کړو د پروګرامونو په پلان جوړولو او ارزونه کې ګډون وکړي."*